# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد   بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم   از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com   afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



لیــکوال او شــنانډ ـ نظر محمد مطمئن

۰۶ می ۲۰۱۵

## پګواش غونډه؛ په زور ازموینې د ډیپلوماسي بریا

### مخینه

د پګواش کانفرانس په دوحه کې  او دیته ورته کانفرانسونه په دې موخه جوړیږي چې د مخالفو جهتونو ترمنځ د دښمنۍ فاصلې کمې او خپلمنځي اختلافات او نظرونه د نورو په وړاندې ووايي.

له دې مخکې همدا ډول کانفرانس د جاپان د کیوټو ښار په دوشیشا پوهنتون کې په ۲۰۱۲ ز کال کې او له هغه وروسته ورته کانفرنس په فرانسه کې جوړ شو، مخکنیو کانفرانسونه ښه نتیجه درلودله، د طالبانو، اسلامي حزب، او افغان بېلابېلو ډلو استازو یوځاې ګډون کړی و، هڅه کېدله ؛ طالبانو او افغان سیاستوالو غوښتل چې دغه ډول کانفرانسونه دوام پیداکړي، ولې دهغه وخت افغان حکومت يې مخه ډب کړه، او په ترکمنستان کې يې ددغه ډول کانفرانسونو په لړ کې پلان شوي کانفرانس کې خپلو استازو ته د ګډون اجازه ورنه کړه، همهغه و چې د کانفرانسونو لړۍ ودریدله، او د ترکمنستان کانفرانس سبوتاژ شو.

په وروستیو وختونو کې پلان و چې په ملیزیا کې کانفرانس جوړ او طالبانو هم د ګډون ژمنه کړې وه، کله چې داشرف غني په مشري نوی حکومت راغی او له امریکا سره يې امنیتي تړون لاسلیک کړ، دهغه کانفرانس مخه ونیول شوه .

په کابل کې د جاپان سفارت له خوا هڅه روانه وه چې د خپلواکو افغانانو کانفرانس چې داسې کسان پکې ګډون وکړي چې  د دولت او طالبانو دواړو لورو سره مشکل ونه لري، مګر د پاکستان سره د اشرف غني نږدې اړیکې او د سولې غولونکي لوبې دغه کانفرانس هم وځنډاو.

### پګواش، ملګري ملتونه او طالبان

پګواش چې د امریکا او کاناډا هیوادونو ملاتړ يې له ځان سره درلود، د افغان حکومت تر تاثیر لاندې يې مشرتابه رانغی ، خپلو پرمختګونو ته يې ادامه ورکړه، که چیرته پګواش هم د افغان حکومت دخالت منلی وای، ممکن چې همدا کانفرانس هم په دوحه کې نه وای جوړ شوی.

دړې میاشتې مخکې د روان کال په لومړۍ میاشت کې پګواش وتوانیدی چې د ملګرو ملتونو د لارې له طالبانو سره اړیکه ونیسي او ددغه ډول کانفرانس په اړه د طالبانو د ګډون  ژمنه ترلاسه کړي.

له دې مخکې هم پګواش په دوبۍ کې په ۲۰۱۲ زکال کې ورته کانفرانس درلود، چې په هغه کانفرانس کې د ملامعتصم آغا جان ملګرو د طالبانو په نوم ګډون کړی و، نتیجه ځکه ورنه کړه چې پګواش د قطر د طالبانو سره

اړیکه نه وه نیولي، همدا لامل و چې طالبانو نه غوښتل مخامخ له پګواش سره خبرې وکړي او یو ډول ګیله من و، مګر د ملګرو ملتونو په وساطت سره طالبانو له پګواش اداري سره ومنله چې په کانفرانس کې به ګډون وکړي، داچې طالبان په بېلابېلو برخو کې د ملګرو ملتونو له استازو سره په اړیکه کې دي، نوځکه خو پګواش د ملګرو ملتونو رول او مرسته وغوښته.

طالبان وايي چې غواړو خپل نظریات تر نړیوالو د بېلابېلو لارو ورسو، له همدې امله دغه ډول کانفرانسونو کې د ګډون کوم ممانعت نه لرو، که په ۲۰۱۲ ز کال کې پګواش ددې پرځای چې د طالبانو په نوم نور خلک دعوت کړي د طالبانو له استازو سره په قطر کې اړیکه نیولی وای، ممکن په هغه کانفرنس کې یې هم د شرایطو په لرلو سره ګډن کړی وای.

داچې پګواش تېر ځل تېروتنه کړي وه ، نو ځکه یي داخل د ملګرو ملتونو څخه په کانفرنس کې د طالبانو د ګډون مرسته غوښتي وه، همدا لامل و چې د طالبانو ډیری غوښتني د پګواش مشرانو په پام کې ونیولي.

### ولي پګواش کانفرانس په قطر کې؟

دا وار داسي پتېیل شوي وه چې پګواش کانفرانس په ترکیه کې جوړ شي. د دغو درېیو لاملونو له امله دا غونډه په ترکیه کې جوړه نه شوه:

- لومړي دا چې د طالبانو د ډېری غړو نومونه لا هم د امریکا او ملګرو ملتونو په تور لېست کې دي.
- دویم دا چې طالبانو غوښتل قطر ته یو ډول امتیاز ورکړل شي.
- او دریيم داچې طالبانو غوښتل دغه تور چې دوی د پاکستان تر تاثیر لاندې دي، لري کړي. او هغه داسي چې قطر له پاکستان سره ښې او نږدې اړیکې نه لري؛ بر عکس ترکیه له پاکستان سره نږدې اړیکې لري. د همدې تور څخه د ځان ساتلو په موخه یې دېته ترجیح ورکړه چې کانفرانس په دوحه کې جوړ شي.

طالبانو بله غوښتنه چې پګواش ومنله هغه په کانفرانس کې په ځینو نومونو باندې د طالبانو توافق و. کانفرانس ته تر ډېره داسي کسان له کابل څخه تللي وو چې عملا یې د افغان حکومت استازیتوب نه شو کولای. معنا دا چې هلته هېڅ د ګډ حکومت رسمي استازیتوب نه کاوه. بل لور ته بیا طالبانو د ملا شېر محمد عباس ستانکزي په مشری د طالبانو په استازیتوب په کانفرانس کې ګډون وکړ.

همدا ډول افغان حکومت هم وار وار وویل چې د حکومت او سولې شورا په استازېتوب هېچا ګډون نه دی کړی؛ بلکې په خپلواک ډول افغانانو په کې برخه اخیستي.

د معلومات له مخې د طالبانو دغه غوښتنه او د پګواش له خوا هوکړه د ګډ حکومت له پاره ننګونه وه. داسي راپورنه هم شته چې په لومړي ځل افغان حکومت وغوښتل چې په کانفرانس کې د ګډون له پاره چارواکو ته اجازه ورنه کړي، او له کابل څخه هغه کسان چې په حکومت کې دنده لري او یا د سولې شورا کې دنده لري اجازه ورنه کړي؛ ولي د بېلابېلو لاملونو له مخې -لکه چې مخکې مو وویل- پګواش د امریکا او کاناډا او ملګرو ملتونو ملاتړ له ځان سره درلود. افغان حکومت مجبور و چې په کانفرانس کې له کابل څخه تلونکو افغانانو مخنیوی ونه کړي او خپلې اړیکې د پخواني ولسمشر په ډول له یادو ادارو او هېوادونو سره خرابې نه کړي.

یوه مهمه خبره دا هم ده چې دغه ډول نړیوال کانفرانسونه پرته د امریکا له خوښې نه جوړېږي؛ ځکه ګډ حکومت مجبور وو چې مخالفت یې ونه کړي.

## دولسمشر نارضايتي او مجبوريت

ويل کيږي چي ولسمشر غني په دوحه کي د کانفرانس له جوړيدو، او هلته د افغانانو ګډون په خپلو اک ډول په داسي حال کي چي د افغان حکومت په استازيتوب به چاته اجازه نه ورکول کيږي ډير په غصه کړى و، ولي د مجبوريتونو له امله يې د دغه کانفرانس مخه ونه نيوله، او ځيني راپورونه دادي چي ولسمشر غني په قطر هيواد کي د ېګواش کانفرانس پر ځاى په ترکيه کي ددي کانفرانس د جوړيدو پلوى و، ځيني څيرونکي په دي باور دي چي کيداى شي په راتلونکي کي د پخواني ولسمشر کرزي په څير ددغسي کانفرانسونو د جوړښت مخنيوي په بېلابېلو پلمو سره وشي.

ځيني شنونکي په دي نظر هم دي چي د ګډ حکومت په اجنډا کي ممکن د رښتوني سولي له پاره کومه تکلاره نه وي، او دغه ډول کانفرانسونه رښتوني سولي ته لاره هواروليى شي.

داسي راپورونه هم ورکول شوي چي د پګواش لومړى اجنډا او د نومونو لېست، په ډېر لوى بدلون سره د طالبانو له خوښى سره سم هغه وخت بيا ځل ترتيب شو کله چي د ملګرو ملتونو په غوښتنه طالبانو د پګواش کانفرانس کي ګډون ومنى.

دپګواش کانفرانس په لومړني لېست کي د پخواني ولسمشر کرزي د نوم سربېره د ځينو پخوانيو لوړ پوړو او ځينو اوسنيو لوړپوړو چارواکو نومونه، دغه راز د سولي عالي شورا سرپرست عبدالحکيم مجاهد او د سولي شورا د دار لانشاء مشر معصوم ستانکزي نومونه هم موجود و.

د ګډ حکومت له خوا دا غوښتنه هم د پګواش له خوا د طالبانو په اشاره ونه منل شوه چي ددوى په استازيتوب يو نفر رسمي ګډون وکړى

پورته ټکو ته په کتو سره داسي ښکاري چي طالبانو له دغه کانفرانس څخه زياته ګټه پورته کړه او يو ډول ديپلوماتيکه بريا يي تر لاسه کړه. دغه راز دوى له دي لاري د سولي هغه ګنګوسي چي ګواکي پاکستان به طالبان اړ کړي چي له افغان حکومت سره خبرو ته کېني، د دغه کانفرس له لاري رد شوي او د سولي د خبرو له پاره يي خپل شرايط هم وړاندي کړل.

## د سولي اړوند د طالبانو غوښتني

د سولي د خبرو له پاره دطالبانو شرايط تر ټولو مهم يې داو چي د بهرنيانو شتون په افغانستان کي د سولي په مخ کي خنډ دى، دا ډول د طالبانو دمشرانو نومونه په تورلسټ کي، او د طالب مشرانو پر سر د جايزو اعلان هم هغه څه دي چي د سولي له پاره خنډ دي.

طالبانو د رښتوني سولي له پاره ټرغ کړي چي د اسي کسان بايد د سولي هڅي پرمخ يوسي چي پر سوله باور ولري، او پر خپل هيواد او ولس مين خلک وي، د ولس او هيواد ګټي تر هرڅه پورته وګني.

طالبانو داهم ويلي چي د سولي د ناسمو هڅوپه لړ کي داهم ده چي ددي پرځاى چي طالبانو ته مراجعه وشي له ګاونډيو هيوادونو سره د سولي د خبرو وړانديز شوي. او همدا ناکامه تجربه ده چي هرځل سوله سبوتاژ کيږي.

طالبانو په خپلو خبرو کي د دوى له پاره د رسمي دفتر شتون هم اړين ګڼلي تر څو وکولاى شي له همدي لاري له نړيوالو سره پرته له خنډ او خنډ څخه اړيکي ولري.

همدا ډول طالبانو د يو داسي اساسي قانون چي اسلامى اصول، ملي ګټي ، د مذهب او کلتور په نظر کي نيولو سره جوړ شي يادونه کړي، او له دي سره يي جوخت د ښځو د حقونو په اړه هم خپل نظر څرګند کړي چي د اسلامي اصولو او افغاني کلتور په نظر کي نيولو سره ښځي د تعليم، کار او فعاليت حق لري.

داهغه څه و چي طالبانو په اساني سره تر خپلو مخالفينو او د نړيوالو تر غوږونو نه شواى رسولاى، ولي د پګواش کانفرانس د لاري وتوانيدل چي خپل نظريات او د سولي اړوند وړانديزونه خپلو سياسي مخالفينو او نړيوالو ته ورسوي.

## برخه وال او بلل شوي کسان

پاکستان په ډير جديت سره غوښتل چي همدغه کانفرانس کي ددوى له خوا هم څوک ګډون وکړي، د رستم شاه مومند او زايد نومونه وړانديز شوي و، له دي سره سره د اسد دراني او شجاع پاچا نومونه هم يادېدل، ولي په کانفرانس کي يي د ګډون غوښتنه ونه منل شوه.

قطر هيواد او د په ټوله کي خليجي عرب هيوادونه اوس د يمن د جګړي پر سر له پاکستان سره فاصله نيولي ده، په قطر کي کانفرانس جوړيدل او قطر ته دغه امتياز ورکول طالبانو به غوښتل چي نړيوالو او افغان حکومت ته ثابته کړي چي دوى هر ډول سياسي او نظامي پريکړي په خپلواک ډول سره کوي.

د اسلامي حزب څخه داسي کسان انتخاب شوي و چي هغوى ځينو يي پخوا هم له طالبانو سره ليدلي و، په دغو نومونو کي هم له ورايه د طالبانو رول معلوميږي، غيرت بهير دطالبانو سره په جاپان کي يوځاى په ميلمستياو کي ګډون درلود، دا ډول قطب الدين هلال نږدي دوه کلونه وړاندي څوځله په عربي هيوادونو کي له طالبانو سره مخامخ ليدني درلودلي.

د پګواش د دوحه په کانفرانس کي د سويډن سفير ته هم بلنه ورکول شوي وه، دا ډول د روسيي سفارت استازى هم غوښتل شوى و، د يوناما ډانيل او يو بل تن هم پکي کليدي کسان و.

د افغانستان څخه نوموړي کانفرانس ته دري ميرمني ، ملالى شينواري، لينا شينواري او ورمه حضرت زى هم غوښتل شوي وي.

کرزي ته نږدي کس او ډاکټر عبدالله ته نږدي کس هم پکي ګډون درلود، او د ولسمشر غني تره قيوم کوچى هم په کانفرانس کي ناست و.

مولوي عطاء الله لودين د ننګرهار پخوانى والى او د سولي شورا غړى او مولوي شهزاده شاهد د ولسي جرګي غړى او د سولي شورا وياند هم په خپلواک ډول دکانفرانس ګډونوال و.

ټول ټال د پګواش کانفرانس کي ۹ تنه بهرنيانو او ۳۰ تنو افغانانو ګډون درلود.

مولوى وکيل احمد متوکل پخوانى د بهرنيو چارو وزير او ملا عبدالسلام ضعيف په پاکستان کي د افغانستان پخوانى سفير هم بلل شوي و، ولي ګډون يي د خپلو شخصي دلايلو له امله ونه شواى کولاى.

دا ډول د شيرمحمد عباس ستانکزي په مشري د طالبانو اته کسيز پلاوي ، مولوى جان محمد مدنى، مولوي سيد رسول حليم، مولوى شهاب الدين دلاور، قاري دين محمد حنيف، مولوي عبدالسلام حنيفي، محمد سهيل شاهين او حافظ عزيزالرحمن په کانفرانس کي ګډون درلود.

## ضمني لاسته راوړني، جګړه اوسوله په يو وخت کي

داهم له ډيرو کسانو سره سوال و چي طالبانو د عزم په نوم پسرلني عمليات پيل کړل ، نور نو د سولي خبري ناشوني ښکاري، او طالبان به د سولي پر ځاى جګړي ته زور ورکړي، ولي د پګواش کانفرانس وښودله چي لاهم د شرايطو په لرلو سره سولي ته د طالبانو ژمنيتا شته.

د پګواش کانفرانس بله لویه لاسته راوړنه به داوي چې د کانفرانس په څنډو کې به د ځینو سیاسي ډلو تر منځ لنډ د نظر مبادله هم وشي، او داچې د لمانځه په وخت کې به دغه ګرده متخاصم جهتونه د یو امام تر شا ولاړ او لمونځ اداکوي، دا ډول به په یوه میز ناست چای او ډوډۍ به خوري، حتمي ده چې  خبري به خامخا مبادله کیږي.
ولې داهم مهمه ده چې ممکن د کانفرانس په څنډو کې دطالبانو او اسلامي حزب د استازو خبرې مبادله شوې وي، دا ډول به د طالبانو خبرې له ازادو او خپلواکو افغانانو سره هم شوې وي. چې دا په ټوله کې د سولې او په هیواد کې د امن له پاره یوه ښه لاسته راوړنه ګڼلای شو.
مهمه دانه ده چې د پګواش په دغه کانفرانس کې طالبانو ډیره لاسته راوړنه درلودله؟ افغان حکومت درلودله؟ یا نورو سیاسي ډلو درلودله؟ مهمه داده چې دغه ډول ناستې فاصلې کموي، او د نظرونو تبادله کیږي او په راتلونکې کې د رښتوني سولې او ژمن مذاکراتو له پاره ، دا ډول د بهرنیانو د وتلو له پاره لاره پرانیزي.

## له پرېکړه لیک پرته پای

د ولسمشر غني د تره قیوم کوچي له خوا د اوربند او جګړې د بندیدو غوښتنه وشوه، مګر د طالبانو له خوا دغه غوښتنه رد، او د پګواش دغه دوه ورځنۍ ناسته ( ۲ – ۳ می ۲۰۱۵) پرته د ټولو لورو له خو ا د موافق پریکړه لیک په لوستلو پای ته ورسید.
داچې دود دی د هر داسې کانفرانس په پای کې باید یو پریکړه لیک صادر شي، د پګواش کانفرانس په آخر کې هم پریکړه لیک په ۱۵ مادو کې صادر شو. په پریکړه لیک کې یواځې غوښتنې شوې، داچې د افغان حکومت له لوري د حکومت په رسمي استازیتوب کوم چا ګډون نه و کړي، او افغانانو په خپلواک ډول ګډون درلود، نو ځکه خو پریکړه لیک د غوښتنو په ډول ترتیب شوی و.
په پریکړه لیک کې غوښتنه شوې چې طالبانو د قطر دفتر پرانستل شي، تورلسټ څخه د طالب مشرانو نومونه لیرې شي، داعش په افغانستان کې د افغانانو له کلتور سره جوړ نه راځي، له ګاونډیو  هیوادونو سره ښې اړیکې، د بهرنیو پوځیانو وتل له هیواد څخه، د ښځو حقوق شرعي حقونو ته درناوی، په اساسي قانون باندې پراخ بحث وشي، او دغه ډول غونډو ته په راتلونکې کې دوام ورکول شي.
د پګواش کانفراس سره د افغان ولس د سولې او امن هیلې ډیرې شوې خو ولس  له ټولو لورو غواړي چې سولې ته ژمن او د سولې اړوند د شکیلو لورو غوښتنې ( طالبان ، اسلامي حزب  افغان حکومت)  ملګري ملتونه، او نړیواله ټولنه چې په سر کې یې امریکا ده په نظر کې ونیسي، دا ډول شکېل لوري د یوبل غوښتنو له پاره انعطاف وکړي، او د یوې رښتوني سولې په لور پرمختګ او بهرنیانو ته د وتلو لاره هواره شي.
افغان ولس تمه لري چې دغه ډول کانفرانسونه دوام پیداکړي او دهغو کسانو مخه ونیول شي چې د ورته کانفرانسونو په مخ کې خنډ کیږي.